اووه څلوېښتم پودکاست

## سیستان او د برتانیا منځګړیتوب

جنبش: سلام به شنونده های عزیز و علاقه مندان پوکاست با رئیس جمهور. در ادامه بحث های تاریخی قرن نوزده، امروز به تعیین سرحدات غربی افغانستان و حکمیت انگلیسها –که باعث تقسیم سیستان تاریخی با فارس قاجاری شد، میپردازیم.

په دې خپرونه کې، په سیستان کې د فارس-افغان لانجه او د انګرېزانو د منځګړیتوب پایلې څېړو. زه داود جنبش یم. ډاکتر صاحب محمد اشرف غني په سلام مو هرکلی کوم او خبرو ته مو را بولم. مهرباني وکړئ!

دکتور غنی: بسم الله الرحمن الرحیم. ډېره مننه. زما تاوده سلامونه ټولو وطنوالو ته، ټولو خویندو او ورونو ته او ټولو افغانانو ته، هر چېرې چې دي.

جنبش: له تاسو نه هم مننه. موضوع مې روښانه کړه، له فارس سره پوله په حقیقت کې د افغانستان لومړنی نړیوال سرحد و چې د ګولډشمید انګریزي پلاوي په منځګړیتوب مشخص او دایمي شو. اصلاً لانجه څه وه؟ او ولې په کې انګرېزان را منځګړي شول؟

دکتور غني: لانجه په دې کې وه چې د فارس حکومت دا دعوه درلوده چې سیستان د صفویانو د حکومت یوه برخه وه او افغانان پس له احمدشاه بابا نه په دې باندې حاکم وو او د سیستان خانان، خاصتاً د بلوڅو سرداران ټول د افغان حکومت پورې تړلي وو. لانجه څکه راغلله چې وختې چې دوست محمد خان –امیر دوست محمد خان، د هرات له نیولو نه پس ته حق ته ورسېد، امیر شېرعلي خان او ورونه یې په داخلي جګړې کې اخته شول او ٦ کاله په دې باندې تېر شول. په دغه وخت کې د قاجارو یو امیر و، د قاین امیر و، محمد عالم خان نومېده. ده په چل، نه په زور، ورو په ورو پرمختګ وکړ او په دغو ٦ کالو کې دی مخ ته راغی، چې تر نادعلي پورې مخکې راغلی و. انګرېزانو ته اصلي مسئله دا وه چې فارس له روسانو سره تړلی و او وختې چې دوی دې ته وکتل چې [د اوسني هلمند ولایت] نادعلي ته دی نژدې کېږي، نو دا یې هندوستان ته یو لوی ګواښ وباله، څکه چې له دې ځای نه کوټې ته او قندهار ته لاره زښته ډېره نژدې ده او په ګډه دوی کولای شول چې برتانیایي هند ته یو لوی ګواښ وړاندې کړي. له بلې خوا نه، دغه وخت کې شېرعلي خان خپل حاکمیت ټینګ کړی و او غوښتل یې چې سیستان ونیسي. انګرېزان له دې نه ډارېدل چې که یوه جګړه د افغانانو او د فارس حکومت منځ کې [پیښه] شي دوی به په تاوان اخته شي. مخکې له هغه نه، ۱۸۵٦ کې چې فارس هرات باندې تېری کړی و او هرات یې ړنګ کړ، دوی په زوره قاجاریان وایستل او دوی سره یې یوه معاهده

کړې وه چې د معاهدې په اساس باندې به منځګړیتوب کېږي. نو ځکه دوی درخواست وکړ او امیر شېرعلي خان چې مخکې له هغې نه په ۱۸۶۹ کال کې د هند نایب السطنة سره لیدلي وو او په دې باور و چې د انګرېز حکومت په هند کې ده سره ښې اړیکې لري، دا حکمیت یې ومانه. د حکمیت منلو په اساس –چې دواړو خواوو ومانه، د انګلستان حکومت ګولډشمېد –چې یو جنرال و او اصلاً دی د ټېلېګراف متخصص و [افغانستان ته راولېږه]. بله ښېګنه چې ده درلوده د انګرېزانو له نظر نه دا وه چې په فارسي، عربي او تُرکي باندې پوهېده. نو داسې یو نفر یې راولېږه چې مخکې یې منځګړیتوب نه و کړی. په جغرافیایي مسایلو باندې، په قومي مسایلو باندې او خاصتاً د اوبو په مسایلو باندې بلد نه و.

جنبش: پس به این صورت، فارس ادعا داشت که این منطقه از زمان صفوی ها بخشی از فارس بوده و افغانها ادعا داشتند که بعد از آن این همواره تحت تسلط شاهان افغان بوده. این ادعاهای متقابل را کمیسیون گولدشمید چگونه ارزیابی میکرد و چگونه این ها را در مقابل هم قرار میداد و فیصله میکرد؟

دکتور غنی: اساس این بود که رئیس کمیسیون گولدشمید بود. در پهلوی او یک کمیسار یا نماینده از حکومت قاجاری فارس بود. نماینده دیگر از افغانستان بود. نماینده افغانستان، شخصیت مهم قرن نوزده افغانستان سید نورمحمد شاه بود. و سوم، از حکومت برتانیایی هند یک نماینده دیگر بود که به نام جنرال پالاک یاد میشد. اصول این بود که باید همه کمیسیون با هم نقاط را بررسی کنند با اسناد منسجم بیآیند. هر کدام اینها راجع به سابقه و همچنان راجع به اینکه که در حالت فعلی در کجا حاکم است و مردم به این چی رقم تعلق دارد. بدبختانه گولدشمید ۴۰ روز پیشتر از حضور سید نورمحمد شاه و جنرال پالاک به منطقه قاین رسید و میرعالم خان او را مطلق مثل نظربند یا بندی واری در یک قلعه نگه کرده بود. ۴۰ روز بعد تقریباً وقتیکه هئیت افغان و هند برتانیایی مشترکاً رسیدند، گولد شمید ۲ روز در ساحه سفر کرده بود. سید نورمحمد شاه با استدلال و دلایل بسیار خاص آمده بود، اما گولدشمید بعد از ۲ ملاقات با اینها اعلان حکمیت خود را کرد، و در اصول این ذکر شده بود که فیصله آخر را وزیر خارجه انگلستان میکند. از آن جهت، بعد از این سید نورمحمد شاه به هند برتانیایی میرود، به کلکته میرود و اسناد و نظریات خود را پیش میکند، مگر وزیر خارجه برتانیا حکمیت گولد شمید را صحه میگذارد. سید نورمحمد شاه هنوز هم منتظر است، قبول نمیکند این را، چون قبل از آن شاه فارس این را قبول نکرده بود. بالآخره شاه فارس اعلان میکند که این را قبول کرده، و طبق هدایت امیر شېرعلی خان سیدنور محمد شاه هم این سند را صحه میگذارد، اما با نهایت افسردگی.

جنبش: په دې حساب دواړه لوري ناخوښه وو، اما یو ډول مجبوریت یې درلود چې دا ومني. افغان مورخینو که څه هم ډېر لږ په دې باره کې لیکلي دي، بیا یې هم یادونه کړې چې د دغه تړون له مخې یا د دغه منځګړیتوب له مخې افغانستان ډېره سیمه وبایلله. محمود طرزي په سراج‌الاخبار کې هم ډېره لویه مقاله په دې برخه کې لري چې د سیستان ډېره برخه په دغه حکمیت کې زموږ لاسه ووتله. دقیقاً ویلی شوو چې کومې سیمې له لاسه لاړې؟

دکتور غني: خبره په دې کې وه چې هم افغانستان، هم فارس غوښتل چې ټول سیستان د دوی برخه شي. دلته یوه مسئله ډېره مهمه ده، ځکه په هغو شېږو وکالو کې چې افغانستان په داخلي جګړې کې و او ورونه یو بل [سره] اخته وو، د انګلستان خارجه وزیر د فارس سفیر ته په لندن کې ویلي و چې خبره په زور پورې تړلې، هر چا چې نیولې ده، حق به د هغه وي. او دا فیصله نه په هند کې برتانیایي حکومت سره شریکه شوې وه، نه شیرعلي خان سره، ځکه چې که شېرعلي خان ته دا خبره رسېدلې وای، ده کولای شول [سیمه ونیسي]، ده سره کافي قوت و، خاصتاً سردار محمد یعقوب خان چې هرات کې والي و، کولای یې شول چې ډېر اقدامات وکړي، ځکه چې د قاین امیر سره داسې قوت نه و. په دې اساس باندې، یو هم خوښ نه وو. څه چې ګولدشمېد وکړل، آباده ساحه د سیستان یې ټوله فارس ته وبښله او دښتې یې موږ ته راکړلې. سربېره پر دې، اوبه یې او خاصتاً دا لوی تالابونه چې د «هامونو» په نامه یادېږي، ددې منځ کې یې خط وویسته، بې له دې نه چې دا ساحه وګوري. په اوبو باندې دی [ګولدشمید] قطعاً نه پوهېده. نو ډېره خاوره مو له لاسه ورکړه. له تاریخي نظر نه، دا ساحه کم له کمه ۵ زره کاله تمدني ساحه ده. لرغون پېژندونکي ټول په دې باندې قانع دي، لکه چې د فرات او دجلې سیند ته وایي، دې ته هم د هلمند حوزه وایي یا د آمو حوزې غوندې. ډېره خاوره مو بایلودله او موږ ته چې لویه لانجه پاتې شوله، په اوبو باندې وه، چې هغې باندې به پس ته وغږېږو.

جنبش: دقیقاً په اوبو باندې به وغږېږو. فورمول انګلیسها چی بود؟ مثلاً از روی چی این تقسیمات را انجام دادند. یکی که مسایل تاریخی بود که هر کدام استدلال های خود را داشتند. اینها چگونه مثلاً این خط را در وسط تالابها گذاشتند، و بهترین بخش سیستان را به فارس دادند؟

دکتور غني: مسئله بدبختانه بسیار ساده بود. گولد شمید گفت فارس حکومت کلانتر است، مهمتر است در این مرحله که فارس را بطرف انگلیس جذب کند و افغانستان حکومت کوچکتر است، از این جهت ساحه آباد را به فارس میگذارند. قطعاً اسنادی را و دلایلی را که سید نور محمد شاه با استدلال خاص جمع آوری کرده بود، مورد نظر نمیگرفت. حکمیت بسیار ساده است در چند ماده. تنها ماده آخرش سر آب است. نکته دیگری که در این اهمیت خاص دارد، در این مرحله قبایل بلوچ ما در سیستان حاکم شده بودند، و نقش بسیار اساسی را ایفا میکردند. و اینها همه سردارهای عمده بلوچ خود را مربوط افغانستان، اول به دولت امیر شېرعلی خان و بعد از آن به عبدالرحمن خان میدانستند و یک قسمت اینها تا سالهای دهه دوم عبدالرحمن خان حکمرانهای محلی مقرر شده بودند و مردم بانفوذ بودند. بنابرین از نگاه ترکیب [جمعیتی] افغانستان هم تغییر بزرگ آورد که قسمت قابل توجه برادرها و خواهرهای ما که بلوچی میگفتند، از افغانستان جدا شدند.

جنبش: طبیعي ده، انساني احساس دی، کله چې خاوره مو له لاسه وځي قهر درځي او غوسه کېږئ، مخصوصاً چې یو لوی قدرت لکه انګرېز مو خوا کې وي او درته وایي چې غلي شئ، څه مه وایئ. امیر شېرعلي خان په قهر و، آیا خپل دغه قهر یې برتانیایانو ته رسولی؟ نوي اسناد، کوم چې تاسې اوس ترلاسه کړي د برتانیا له آرشیفونو نه، په هغې کې، د هغه د قهر او غوسې په باره کې کوم شیان راغلي؟

دکتور غني: هو، بالکل، مگر خبره په دې کې وه چې برتانویان د ده په خپګان باندې او د خپګان په ژورتیا باندې، یوازې ۷ کاله پس ته پوه شول. په دې معنی چې ۱۸۷۷-۷۸ کې بیا مذاکرات کېږي. دغه مذکراتو کې –چې نوی نایبالسطنة راغلی او د انګرېز دریځ بدل شوی، سید نورمحمد شاه بیا لېږل کېږي د امیر شېرعلي خان له خوا، او اوس سید نورمحمد شاه د افغانستان صدراعظم دی، او لومړی وار دی چې القاب د ده او کابینې په پښتو شوي او ده ته یې ټولواک خطاب  ورکړی و.

جنبش: وبښئ که دلته یې لږه اورېدونکو ته واضح کړو چې د ګولد شمید د منځګړیتوب نه وروسته چې نوی نایبالسطنة یا وایسرای هند ته راغی، بیا دا مذاکرات وشوو. ولې بیا وشول؟

دکتور غني: نه، دا دویم مذاکرات په سیستان باندې نه وو. دویم مذاکرات په دې باندې وو چې انګرېزانو غوښتل چې د افغانستان خارجي اړیکې ترلاسه کړي او نوي امتیازات یې غوښتل –چې هغه باندې به موږ او تاسې پس ته راشوو. دغه وخت کې دی –یعنې ۸ کاله پس د دې نه چې د سیستان مسئله ټوله شوې، انګرېزان پوښتنه کوي چې ولې شېرعلي خان له موږ نه خفه دی؟ او سید نورمحمد شاه چې اوس په دې وخت کې د افغانستان صدراعظم دی، دوی سره په پېښور کې ډېر په تفصیل غږېږي او لومړی خبره چې دی پورته کوي، وایي سیستان کې تاسې موږ سره جفا وکړله، شېرعلي خان بېحده له تاسې نه خفه دی، ځکه چې ده تاسې باندې باور وکړ او په دې ډاډ کې و چې تاسې به عادلانه فیصله کوئ. تاسې ظالمانه فیصله وکړله او ځکه امیر له تاسې نه خفه دی. نور دلایل یې هم درلودل، خو خاصتاً د سیستان مسئله. نو دغه وخت کې ده چې انګرېزان په دې پوهېږي چې [امیر شېرعلي خان ترې خفه دی]، اما خبره له خبرې نه تېره شوې ده. عمده نتیجه یې دا وه چې شېرعلي خان دوی باندې خپل اعتماد له لاسه ورکړ او که دا مسئله بل رقم فیصله شوې وای، شاید دویمه جګړه د انګلیس و افغان نه وای شوې.

جنبش: وبښئ د دغه خفګان او ددغو ناندریو تفصیلات په ارشیفي اسنادو کې د برتانیا موندلی شوو؟

دکتور غني: هو بالکل! ما زرها پاڼې اوس لوستې دي. اکثره مورخین –زما په شمول، د شېرعلي خان دورې باندې کافي اسناد مو پخوا نه وو لیدلي. په دې څو کالو کې له ښې مرغې نه ما وکړی شول چې دا اسناد ترلاسه کړم. هم هغه ګزارشونه چې د انګرېز مسلمان استازي په کابل کې لېږلي دي او هم د سیستان د مذاکراتو او هم د سید نورمحمد شاه مذاکرات په تفصیل سره، اوس اسنادو کې مې لیدلي دي، دا اسناد موږ خوندي کړي دي او پس له دې نه به انشاءالله تعالی د افغانستان ځوان څېړونکي او زموږ محترم مورخین او دا ټول، دې ته لاسرسی ولري.

جنبش: ناراحتی امیر افغان از باختن زمین یا سرزمین بود یا دقیقاً به عواقب جدی تر دیگر هم متوجه بود که یعنی در این مناقشه انګلیسها طرف فارس را بر افغانستان ترجیح داده اند؟

دکتور غني: سه دلیل بود. دلیل اول ساحه بود، چون از نګاه نفوس، فراموش نکنید که در این دوران نفوس افغانستان کمتر از ۵ میلیون بود. در دوران عبدالرحمن خان بالآخره تخمین نو شد در حدود ۵ میلیون، و شمال افغانستان خالی

شده بود. چون یک وبای عظیم در شمال افغانستان آمد، که بنام خشکسالی فارس مشهور است، در سال ۱۸۷۲-۷۳. صدها قریه مطلق خالی شده بود، بناءً نفوس مهم بود. مسئله دوم ساحه بود، چون برای او [امیر] یک مسئله حیثیتی بود، که جاییرا که احمدشاه بابا و سلاطین سدوزی حکومت کرده بودند، و بعد از آن کاکایش در قندهار و شهزاده کامران در هرات، تحت ساحه نفوذ خود میدانستند، آنرا از دست بدهد. و همرای فارس او رقابت خاص داشت. احساس کمتری نداشت. فکر میکرد که مسایل داخلی افغانستان و جنگ اول افغان – انگلیس نفوذ افغانستان را کم کرده و هم از حمله فارس بر هرات –دو حمله اش نهایت متاثر [بود]، فارس را خطر میدانست. نکته سومش مسئله آب بود. هر سه مسئله با هم یکجا شد و موجب این شد که اعتمادی را که در سال ۱۸٦۹ در ملاقات با نایب السطنة انگلیس در امباله که برایش یک دربار خاص ترتیب کرده بودند، ایجاد شده بود، این را از دست بدهد.

جنبش: شما اشاره کردید که اگر حکمیت انگلیس به این شکل پیش نمیرفت شاید جنگ دوم افغانستان و انگلیس هم رخ نمیداد و شاید حالی ما یک افغانستان دیگری میداشتیم. چی چیزی نوی در این اسناد است که دال بر این حقیقت باشد که اگر اینطور نمیشد، شیرعلی خان به روسها نزدیک نمیشد و انگلیسها بهانه ای برای حمله بر افغانستان نمی یافتند؟

دکتور غنی: باز هم تمام اسناد را که بررسی کنید – که من بررسی کرده ام، عمده ترین نکته از ناراحتی امیر شیرعلی خان سیستان است. مسایل دیگر نسبتاً په مراتب کوچکتر بود. مسئله سوات بود که با آخوند سوات انگلیسها بدون اجازه او تماس گرفته بودند. مسئله خان قلات بود که باز هم بدون اجازه او تماس گرفته بودند، اما خان قلات آمد برای مشوره پیش او. و در بدخشان یکی از خوانین محلی را برایش انگلیسها یک هدیه روان کرده بودند. و مسئله دیگر اینها این بود که هنوز شهزاده عبدالله را اینها به حیث ولیعهد به رسمیت نشناخته بودند. وقتیکه مسایل دیگر را مقایسه میکنید، عمده ترین مسئله همین است که فضای بی اعتباری بوجود آمد، و خاصتاً اینکه دلایل سیدنور محمد شاه گوش شنوا پیدا نکرد. حکومت هند برتانیایی برخلاف وزارت خارجه انگلستان به این نظر بودند که سیستان به افغانستان تعلق دارد. اینها از فیصله وزیر خارجه اش که لارډ رسل نام داشت –که از اجداد فیلسوف مشهور برترند رسل بود، خبر نبودند. تنها در جریان این مذاکرات و حکمیت از آن خبر شدند. و امیر شیرعلی خان حرفش این بود که اگر مسئله به شمشیر و تفنگ میبود، [پس] میماندید که ما در میدان مسئله را حل میکردیم. شما مانع آن شدید، گفتید این از راه دیپلوماسی حل میشود، اما دیپلوماسی را به ضرر منافع افغانستان تثبیت کردید، و بنابرین وقتیکه مسئله پیشرفت روسها میآید و هئیت خاص روس –که البته بدون اجازه امیر آمده بودند در افغانستان، پیش میآیند و وعده های باغ سرخ و سبز را به او [امیر] نشان میدهند، در این وقت او بی اعتمادی خود را اظهار میکند، و این موجب آن میشود که اخطاری را که حکومت هند برتانیایی به او [امیر] میدهد – که یا هئیت ما را قبول کن یا حمله میکنیم، جدی نمیگیرد و جنگ دوم افغان –انگلیس رخ میدهد.

جنبش: آیا عادلانه به وي -دغو توضیحاتو ته په کتنه، چې سړی ووایي چې له فارس سره د افغانستان د لویدیځې پولې ټاکنه د نولسمې پېړۍ د لویې لوبې د امپریالیستي اندېښنو زېږنده وه، یعنې یوه نتیجه یې وه، ځکه چې انګرېزانو فکر کاوه چې روسان مخ ته راځي، په هر قیمت چې کېږي باید دوی یې مخ ته ودرېږي، که واړه ملتونه -لکه افغانستان، د ښنو لاندې هم کېږي، مهمه نه ده؟

دکتور غني: هو دا خبره بالکل سهي ده، مګر دا څو ابعاد لري: یو، هرات ته که وګورئ، که انګرېزانو واقعاً دوه وارې په فارس باندې حمله نه وای کړې، شاید موږ هرات له لاسه ورکړی وای. هلته هغه زموږ په ګټه تمامه شوله، ځکه چې هرات دوی د ټول هند کیلي بلله. بیا هم دا مه هېروئ چې د عبدالرحمن خان په دورې کې بیا هم په هرات باندې نژدې دوی له روسانو سره جګړه کړې وه، چې هلته به بېرته راځو [کله] چې د شمال سرحد باندې راشو. دویمه یې دا ده، چې دا ټوله مسئله په دې کې ده چې دوی غوښتل چې د دوی او د روسیې منځ کې یو مسلمان ملک وي چې د روسانو نفوذ لاندې نه وي او د دوی نفوذ لاندې وي، اما د دوی او روسانو منځ کې یو دېوال غوندې وي. د افغانستان سرحدونه او بیا د ډیورنډ کرښه، ټول د دغه نتیجه ده. په دې دوران کې -جنبش صاحب دا په یاد ولرئ، چې دا لومړي سرحدونه دي چې په آسیا کې او افریقا کې خوندي کېږي. افریقا سرحدونه نه درلودل، په شلمې پېړۍ کې منځ ته راغلل او که منځني ختیځ ته هم وګورئ، اکثر سرحدونه یې شلمې پېړۍ کې منځ ته راغلل. د لویې لوبې خبره په دې کې وه چې آیا روس به هندوکش کې ودرېږي که آمو کې؟ او بالآخره انګرېزان په دې وتوانېدل چې روس قانع کړي چې آمو کې ودرېږي. په دې باندې به پس ته وغږېږو. دې خوا ته ډار یې دا و چې روس او فارس سره تړلي دي او که فارس راځي نادعلي ته -اوسني هلمند ولایت ته، چخانسور ته، فراه ساحې او دې ته، دا په حقیقت کې د روس ښه خلاصوي. په دې باندې دوی ډېر سخت تلوار درلوده چې څنګه اقدام وکړي چې روس خیبر ته یا کورمې ته یا قندهار ته ونه رسېږي. اما دا یې کتل چې د جګړې خطر زښت ډېر دی. ما نوي اسناد کتلي دي چې دا په تفصیل راځي چې د افغانستان سرحدونه دوی څنګه وټاکي، چې که د روس له خوا تېری کېږي، دوی وکړی شي چې جګړه په افغانستان کې وکړي، نه په هندوستان کې.

جنبش: این نظریه شما که اگر حکمیت گولدشمید به این شکل پیش نمیرفت شاید یک حالت دیگری میداشتیم و جنگ دوم با انگلیسها رخ نمیداد. در تاریخ نویسی معاصر ما وقتیکه به بخش سیستان نگاه میکنید چیزی زیاد نمی یابید. تنها [میر غلام محمد] غبار یک بحث کوتاه دارد و من در سراج الاخبار مقاله ییرا دیدم که به شما یادآوری کردم. فکر میکنید چرا این بخش در تاریخ نویسی ما به این شکلی که شما مطرح کردید، مطرح نشد؟

دکتور غنی: مورخین محترم ما -خاصتاً استاد غبار، دسترسی به این اسنادیکه من نو دیدیم، نداشتند. این اسناد قابل دسترسی نبود. در پوهنتون امریکایی بیروت اسناد بسیار زیاد انگلیسها موجود بود وقتیکه من محصل بودم. یک قسمت زیاد آنها را سر حمله اول حکومت فارس به هرات من در آنوقت به دقت خواندم و بررسی کردم. وقتیکه سر [تیزس] دوکتورا یم کار میکردم، سه ماه در آرشیف لندن، آرشیف ملی، موزیم انگلستان وغیره، تقریباً این را روزانه

تا شام –که موزیم بسته میشد، بررسی کردم. اما این اسناد [نو] مورد دسترسی ما نبود. این اسنادی را که فعلاً من میبینم، این نظر را برایم واضح ساخته که اهمیت این مسئله در چیست؟ چون اسناد دیگری را که ما داشتیم از آخر قرن نوزده و شروع قرن بیست سر تقیسم آب است در هلمند، اما حکمیت گولد شمید به شکلی که در این اسناد آمده و دلایل خاصش است، در آنوقت قابل دسترسی ما نبود. و همچنین در تاریخ دیپلوماسی خود ما بدبختانه یک نظر داشتیم که دیپلوماتهای برجسته در قرن نوزده نداریم و این درست نیست. شخصیت سید نورمحمد شاه به حیث یک دیپلومات ورزیده و یک افغان متعهد بسیار کم مورد توجه قرار میگیرد. تنها چیزیکه به نامش مانده، سید نورمحمد شاه مینه بود.

جنبش: منظور تان منطقه یی است که به عبارت دیگر کارتهٔنو خوانده میشود، و متاسفانه هم در محاوره های عامیانه و هم بصورت عام در مکاتیب و صحبت های رسمی این حقیقت فراموش میشود که نام رسمی این منطقه «سید نورمحمد شاه مینه» است و این به پاس خدمات آن شخصیت بزرگ دیپلوماسی ما در قرن نوزده گذاشته شده.

دکتور غنی: بالکل، و این را هم فراموش نکنید که سید نورمحمد شاه از پشین بود، که فعلاً در بلوچستان است و از یک خانواده بسیار محترم سیدهای منطقه است که تاریخ خاص دارند و این مناسبات عمیقی را که کویته، پشین و این ساحات لورلای وغیره، جز لاینفک خاک افغانستان بودند، این را ما فراموش کرده ایم. در قرن بیست اکثر افغانها سرحدات فعلی خود را بحیث سرحدهای دایمی دانستیم، جز خط دیورند و در آنجا معلومدار آگاهی و حافظه تاریخی ما فرق دارد. اما در این بخش‌ها چون اینها به سرحدهای بین المللی بدل شدند به اندازه کافی ما توجه نداشتیم.

جنبش: که څه هم د امیر حبیب الله خان دوره چې ځېږو، کېدای شي ځینو مسایلو ته چې په دغه د سیستان برخه کې پېښ شوي دي، هغې باندې به وغږېږو، خو اوس چې یې بحث دی، زه غواړم لنډه یادونه وکړم چې په دغه پوله کې کشمکش د هغه په دوران کې هم روان و، مثلاً سراج الاخبار د خپل لومړي کال ۱۹۱۱ – ۱۲ کال په ګڼو کې دغلته د یوه پوځي ټکر یادونه کوي چې حبیب الله خان مجبورېږي دوه توپه او یوه قطعه هلته ولېږي او په نتیجه کې د فارس له خوا راغلي ایله جاریان یا وسله وال بېرته په شا کړي. یعنې په دغه سیمه کې د ګولد شمید منځګړیتوب لانجه په بشپړ ډول له منځه یو نه وړلی شوه.

دکتور غني: د امیر حبیب الله خان دوره کې دا څو برخې لري چې پس ته چې په هلمند باندې وغږېږو، دا به هم واضح شي. هلمند سیند خپل مسیر بدل کړ، د نولسمې پېړۍ په پای کې او دا نوې نه ده. هلمند [سیند] بار بار خپل بستر بدل کړی. نو د فارس خلکو شروع وکړله چې بې د افغانانو له اجازې نه، چې لویې ویالې وباسي. دلته د هرات سپاه سالار امر وکړ چې دوی مه پرېږدئ. او ځکه یې مخنیوی وشو. دا توپونه او دا یې چې ولېږل د همدې برخه وه او په دې باندې وو چې بیا د انګرېز منځګړیتوب راغی. دې ته مکماهن ولېږل شو. مکماهن برخلاف د ګولد شمید څو کلونه تېر کړل. دا لومړی وار و چې د هلمند اوبه یې تخنیکي له نظر نه وځېړلې، اندازه یې ونیوله، د کمال خان بند یې حدود تعیین کړل چې هغه اوبه چې کمال خان نه راځي پس له هغه نه به. وړاندیز د ده د حکمیت د اوبو په برخه کې فارس

ونه مانه او نتیجه یې دا شوه چې امیر حبیب الله خان هم دا ونه مني. ځکه چې هلمند [سیند] گرځېدلی و، په دې باندې شخړې دوام درلوده. پس له هغه نه فخري پاشا –چې یو ترک سیاستوال و، هغه منځگړی تعیین شو او پس له هغه نه د هلمند وادي کار چې شروع شو، د شاه محمود خان [د صدارت] په دوران کې د ملگرو ملتونو له خوا، یو هئیت چې مشر یې کاناډایي و، اصلاً امریکاییانو په وسیله باندې چې د ایران او افغانستان منځ کې منځگړیتوب وکړي، دا تعیین شول –دا وخت ایران دی. یو د دوی نتیجې ته ونه رسېدل تر څو چې [موسی] شفیق صاحب دا غوټه خلاصه کړه.

جنبش: و همانطور که قبلاً یادآوری شد به مسئله آب هلمند بعداً در یک برنامه دیگر میآییم. شما قبلاً تذکر دادید که این تعیین سرحد ما در غرب با فارس، از اولین سرحدهایی بود که مصئون شد و مشخص شد. باز هم یک سوالی را میخواهم بپرسم که آیا این شباهت هایی با تعیین سرحدات دیگر در همان زمان یا بعداً توسط نیروهای استعماری داشت، یا این نسخه منحصر به فرد بود؟

دکتور غنی: قبل از این سرحد بلوچستان با فارس تعیین شده بود و در تعیین آن سرحد هم گولدشمید نقش داشت. این شروع تعیین سرحدات است که به یک پروسه عظیم بعد از معاهده برلین در ۱۸۸۵ –که تمام براعظم افریقا را قدرتهای اروپایی استعماری بین خود تقسیم کردند، شروع میشود و دوام میکند تا بعد از ختم جنگ اول جهانی که عراق کنونی، سوریه کنونی، لبنان کنونی، اردن کنونی نتیجه این است. همچنین این دوام میکند، چون پولند را ببینید بارها به شکل یک ملت از بین رفته، تقسیم شده و دوباره ایجاد شده و آخرین تغییرات عمده بیکه آمد معلومدار بعد از شکست شوروی در افغانستان بود که جرمنی متحد میشود و کشورهای بالتیک استقلال خود را میگیرند و کشورهای آسیای مرکزی. نکته بیکه واقعاً قابل توجه است، اینست که سرحد غربی و سرحد شمالی ما تغییر نمیکند. ممالک دیگر تغییرات به مراتب زیادتر داشتند. اما از نگاه تاریخی از اولین سرحداتی است که تعیین میشود و در نتیجه اش، تجاربیکه از این گرفته شده در تعیین سرحدات دیگر مورد استفاده قرار میگیرد. اگر آن تجارب قبل از این موجود میبود، شاید مسئله به این منوال نمیبود. تعیین سرحد شمال ما چند سال گرفت، و هئیت ها نهایت دقیق بودند و واقعاً قدم به قدم، میل به میل تمام سرحد را گشته اند، در حالیکه گولد شمید یکی از این کارهار را نکرده بود.

جنبش: سړی ویلی شي دغه سیستان سیمه کې، دا نوې ناندرۍ چې دي چې ډېرې د ایران له خوا مطرح کېږي او اصلي ریشه یې هم اوبه دي، د همدغه نولسمې پېړۍ له انگریزي حکمیت نه راځي، که نور عوامل پرې اوس ور زیات شوي دي؟

دکتور غني: لومړۍ خبره معلومدار دا ده، چې اوبه یوه لانجه ده چې دوامداره ده او عمده دلایل یې د گولدشمید له حکمیت نه راغلل. مگر د هغه په سر موږ نور مسایل لرو چې د اهمیت وړ شول. د نن مشکلات هم او همدارنگه د همغږۍ او همکارۍ امکانات توپیر لري. نو هغه باندې به پس ته راشوو. ریښه په دې کې ده. ځکه که حوزې د سیستان

ته وګورئ، دا یوه واحده حوزه د یوه سیند وه، یعنې د وادي په حیث باندې او د دې د اوبو په انسجام باندې به پس ته وغږېږو. خاصتاً ټول افغانان باید پوه شي چې پس د شوروي د یرغل نه، افغانستان په حقیقت کې ایران ته د میلیاردها ډالرو [معادل] مفتې اوبه ورکړي او په بدل کې یې هېڅ شی نه دي اخیستي او دا عادلانه نه ده. هغه برخه چې دوی ته تاکل شوې ده او خدای بښلي شفیق په وضاحت کې معاهدې کې راوړي دي، حق د دوی دی، اما هغه هم په دې باندې تړلی دی چې وچکالي ده یا پرېماني ده؟ او د دوی د انجینری پروژې چې ډېرتر د شلمې پېړۍ د ابتدا په اساس باندې وې او چاپېریال باندې یې توجه نه درلودله، هم دوی ته او هم موږ ته ډېر لوی تاوانونه رسولي دي.

جنبش: و در آخر یک سوال حساس را میخواهم بپرسم در این بحث سیستان. معمولاً در این آواخر مخصوصاً در بیست سال دوران جمهوریت بعضی ها مطرح میکردند که اگر قرار باشد اعتراض کنیم بر مرزبندی های دوران استعمار، چرا بر دیورند اعتراض داریم، ولی بر سرحدات غربی و شمالی کشور که همچنان تحت نفوذ قدرتهای بزرگ تعیین شد اعتراضی نداریم که همچنان مثل دیورند قبایل را در دو طرف تقسیم کرد. دلیل اصلی چیست؟ چرا این سرحدات به سرحدات دایمی تبدیل شد، برخلاف دیورند؟

دکتور غنی: دلایلش بسیار واضح است. نکته اول اینست که حکومت فارس قرن نوزده تا حکومت ایران قرن بیست و بیست و یک نهایت فرق دارد. حکومت شاهی فارس –حکومت قاجار، یک حکومت ضعیف، تحت تاثیر روس و انگلیس و در حقیقت تقسیم شده بود به نقاط نفوذ، که شمال تحت ساحه نفوذ روس بود، جنوب تحت ساحه انگلیس. منابع بسیار کم عایداتی داشت. بعد از آن هم که نفت پیدا شد، مقدار زیاد نفع آن را شرکت برتانیایی گرفت که از خاطر آن شخصیت ملی ایران معاصر را –دکتور مصدق را سرش کودتا کردند. بعد از آن یک حکومت مرکزی قوی در ایران بوجود میآید، اول تحت نظر شاه و وقتیکه در سال ۱۹۷۳ اوپیک –یا نهاد تولید کننده های تیل یکجا میشوند، ایران به یک ثروت خاص میرسد، و پروژه های بسیار بزرگ را روی دست میگیرد، که سیستان هم جز آن شامل است. و بعد از آن حکومت جمهوری اسلامی ایران این طریقه را انجام میدهد. از این جهت، نوع مناسبات اجتماعی، زبانی، سیاسی و اداری در این سرحد بصورت اساسی تغییر میکند. این قطعاً شباهتی با دیورند و عمق مناسبات اجتماعی، زبانی و فرهنگی و اینهای ما که وجود دارد، ندارد. سرحد شمال هم در دوران اتحاد شوروی و بعد از آن جمهوریت های آسیایی –بعداً سرش میآییم که چگونه تعیین شد. نکته کلیدی در اینجا شکل دولت‌سازی، ایجاد مرکزیت قوی برخلاف قرن نوزده است. و همچنین مناسبات قوی اقتصادی با یک اقتصادی که بر تیل حاکم بود و موجب این میشود که خاصتاً بعد از خشکسالی دوران اعلیحضرت، سالهای آخر اعلیحضرت یک قسمت زیاد مردم ما به ایران بروند پشت کار، مسئله ایجاد زندگی بود. و توجه سیستان به آن طرف داشت. اما امروز باز هم وضعیت دیگر رقم است. من تنها برایتان یک سرخط یکی از عمده ترین خبرگزاری های ایران –تسنیم که با نهادهای سپاه وغیره بسته است، میخوانم. **«سیستان در حصار بی تدبیری، سراب توسعه صنعتی و وعده های خالی مسوولان»**. امروز سیستان باز هم به یکی از محروم ترین ولایات ایران بدل شده، چون طریقه مدیریت آب در یک بحران است. بدون همکاری

منطقه ای با افغانستان، سیستان از نگاه زراعتی به پا ایستاد شده نمیتواند. و ضرورت اینست که در برنامه های بعدی یا هر وقتیکه شما بخواهید ما سر راه چاره مسئله آب -که وقتیکه سر مسئله هلمند و آب هلمند خاصتاً گپ میزنیم، سر طرح هایی بیاییم که بتوانیم همکاری دوجانبه را به اساس منافع و احترم مشترک جانبین ایجاد کنیم.

جنبش: ډاکتر صاحب غني ډېره زیاته مننه، د سیستان بحث کې به د خاورې د وېش فصل همدومره بس وبولو، خو څو ځله ژمنه وشوه، د اوبو برخه به یې –چې نن هم لانجې زېږوي، یوې جلا خپرونې ته پرېږدو چې هیله لرم په دې راتلونکو اوونیو کې به یې ان‌شاءالله ولرو. دلته تاسې او ګران اورېدونکي په لوی څښتن سپارم. تر بیا!

دکتور غني: ډېره مننه، بیا هم زما ډېر تاوده سلامونه، ټولو وطنوالو ته.

زنده باد افغانستان، یشه سین افغانستان، تل دې وي افغانستان.